مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۲۳

# هر څه ځي، خو عادت نه ځي

## (طنز)

وايي چې د يو هېواد ولسمشر په ماشومتوب کې ستر غل تېر شوی و؛ نو د ولسمشرۍ په لومړۍ میاشت وتوانېده چې خپل هېواد له غلو تصفيه کړي.

يوه ورځ يې مشاور ترې وپوښتل، چې ښاغلی ولسمشره! زه ۲۰ کاله په کابينه کې له ۵، ۶ ولسمشرانو سره مشاور او وزيراعظم پاتې شوی يم؛ خو داسې نر مې لا نه و ليدلی، چې په يوه مياشت کې دې هېواد له غلو خلاص کړي.

باچا وويل: زه په ماشومتوب کې غل وم، درس مې وواېه؛ خو کار او وظيفه نه وه؛ هماغه و، چې غلا مې بيا شروع کړه؛ خو چې د غلو د ډلې مشر شوم بيا مې غلا نه ده کړې او ان تر باچاهي ورسېدم.

له پاچاهي وروسته مې ټول غله راوغوښتل او ورته ومې ويل: شرموئ به مې نه! لاړ شئ او کار وکړئ!

هغوی وويل: سمه ده؛ د دې له پاره چې مونږ په خپله ماړه شو او ته هم له شرمه بچ شې؛ نو مونږ ته وظيفې راکړه. هماغه و، چې ټول مې وزيران، واليان، ښاروالان، رئيسان، د ګمرکاتو مشران او دولتي مامورين وټاکل.

مشاور په خندا وويل: واه، واه!!! دا نو څومره ښه منطقي پرېکړه ده.
باچا غلی شو؛ خو چې څنګه مشاور پورته شو؛ باچا وويل: دی هم د ولس په خير بې حافظې دی. زما ملګري اوس هم غله دي. وزيران يې په وزارت کې، واليان په ولايت کې، رئيسان په رياست کې او نور يې په دولتي ادارو کې غلاوې کوي؛ خو د شرافت غلاوې.

ماخوستن د باچا ملګرو د ځوانی يادګار بيا تازه کړ او سره راغونډ شول. هر يو يې په نوبت سره د خپلو غلاو راپور وړاندې کاوه. وروسته وار يو خوارځواکي ځوان ته ورسېده، چې غلی ناست و. څو شيبې چوپ و؛ د ټولو توجه ور واوښته. باچا د خبرو کولو امر ورته وکړ؛ نو هغه په ناخوښۍ سر وښوراوه او ويې ويل: باچا سلامته! دا نور ياران دې په هېواد دننه غلا کوي؛ خو زه دې بهر ته لېږلی يم؛ سفارت کې نور څه نشته؛ نو له ډېر فکر وروسته ايله په دې وتوانېدم چې په پوره يوه مياشت کې له ۵ ډيپلوماتانو بټوې غلا کړم.

باچا يو دم لاسونه وپړقول او ويې ويل: ياره مونږ سره دله ګان شوي يو؛ غلا کوو؛ خو د غلا نوم نشو ورکولی؛ اصل نر خو ته يې چې ان د ډيپلوماتانو جيبونه وهې؛ څه به يې درنه پټوم؛ نن مې د ناروغی له امله کوم پلان نه درلود؛ نو ما هم د يو مشاور بټوه ووهله.

مشاور چې له يوې کړکۍ نه يې د تالار ټول حال وليده؛ د باچا په خبرې يې د پتلون جيب ته لاس کړ او چې څه يې و نه موندل؛ نو هماغلته بې هوښه شو...

په بې هوښې کې يې له خولې يوازې دا جمله ختله: ولسه خدای دې مل شه!

۲۰۲۰/ ۱۲/ ۲۳ـ جلال کوټ

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ